پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۱۲/۰۹

# لنډۍ او د لنډیو د ښتولو ستونزه
## نه ویشتمه برخه

### د استاد گل پاچا الفت
### «پښتو سندرې»

راځئ، راځئ چې لنډۍ وایو
لنډۍ لاښې دي د یار غم غلطوینه

ټپس د باز په نرخ خرڅیږي
زه پـه دغه بازار سودا کله کومه


پښتو سندرې

لیکونکی
گل پا چا «الفت»

د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تألیف
د څانگو آمر

کابل-۱۳۲۵

عمومي
مطبعه

د لنډیو په باب د بحثونو د منابعو د پیژندني په لړ کې، د لنډیو د مقالو په دې برخه کې د استاد ګل پاچا الفت «پښتو سندرې» نومې کتاب باندې لړ تم کېږو او دې ته پام کوو چې په ۱۳۲۵ کال کې استاد الفت د خپلو نورو غنیمت کارونو تر څنګه د لنډیو په باب خپلو لوستونکو ته څه ډول او څومره مالومات وړاندې کوي.
د استاد ګل پاچا الفت د ګڼو آثارو په ډله کې یو هم « پښتو سندرې» نومی کتاب دې. په دې اثر کې استاد الفت لومړی د پښتو ژبې د بیلابیلو دورو د ځینو شاعرانو د کلام نمونې راوړې دي او د الفت صاحب د وخت د تقاضا او دید له مخې اړینې تبصرې پرې شوې دي. دا چې په کتاب کې څه او د چا د کلامونو بیلګې را اخستل شوې دي، په خپله الفت صاحب د کتاب په پیل کې داسې مالومات وړاندې کوي:
«پدې کتاب کښې د پښتو شعر د تاریخ په لحاظ له (۱۳۹ هجري) څخه تر (۱۳۰۰) پورې له نظر لاندې نیول شویدی. او د دې لامله چه د پښتو شعر سیر او تحول له هغه وخته تر دغه وخته پورې معلوم شي د یوه شاعر په یوه شعر هم اکتفا شویده. د ادبي تبصرې او شعري تحلیل په لحاظ د پښتو شعر د نوعیت په اعتبار په درې دورو ویشل شوی چه د روښانیانو دوره، د خټکو دوره، د مهمندو دوره ورته ویل شویدی او دغه هره دوره د کتاب باب بلل کیږي. د کتاب په آخر کښې دوه بابه نور هم شته چه یو باب د علماء او روحانیونو اشعار دی او بل ته د ساز او سرود بدلې ویل شویدی... » (الفت ګال پاچا، پښتو سندرې، کابل، ۱۳۲۵ کال، عمومي مطبعه، الف ـ ب مخونه)
د الفت صاحب دې اثر کې د لنډیو په باب هم لنډ بحث شوی دی او د لنډیو ځینې بیلګې خوندي شوې دي. استاد الفت هم لا هغه وخت د لنډیو په باب هماغه عمومي مالومات وړاندې کوي لکه نورو لیکوالو چې له ده وړاندې او له ده نه وروسته د لنډیو په باب وړاندې کړی دی. استاد الفت د لنډیو په باب د خپل بحث په یوه برخه کې داسې ویلي دی:
«په پښتو سندرو کښې یو ډول اشعار شته چه لنډۍ یې بولی، د لنډۍ لمړی مسره لنډه او دوهمه اوږده وی، دا ډول اشعار د پښتو په موسیقی کښې ډیره زیاته برخه لری ځکه چه د پښتو په هر خوا کښی په بیل وزن او بیل آهنګ ویل کیږی مګر هر آهنګ ئي جذاب او له سوزه ډک وی چه اوریدونکی ئی ارو مرو له تاثیر لاندی راځی. په دغو ټولو اوزانو کښي چه د لنډۍ دپاره پیدا شویدی تیرائی وزن ډیر شهرت موندلی او زیات موثر دی. لنډۍ علاوه پدی چه په یو مؤثر او سوزناك لحن ویل کیږی او د آهنګ په لحاظ زیات تاثیر لری د مضمون او مفهوم په اعتبار هم د پښتو په لوړو او عالی ادب کښي ښه ځای لری او د فصاحت او بلاغت زور او قوت پکښي لیده شی اکثره لنډۍ داسی دی چه په پښتنو کښي د ملتونو په ډول ویل کیږی او (حکم و امثال) ورته ویلی شو، ډیر مطالب شته چه د یوی لنډۍ په ویلو د کنایاتو په ډول ادا کیږی او له صراحت نه اولی بلل کیږی. په لنډیو کښي که څه هم ځینی داسی وی چه د سوال و جواب په ډول د مین او میني له خوا ویلی شوی وی او د مضون تسلسل پکښي لیده شی مګر عموماً یوه لنډۍ له بلی نه په مضمون کښي جلا دی او په هره لنډۍ کښي یوه خبره تمامه شوی وی. په لنډیو کښي ساده هی او له عمومی ذهن او تخیل سره موافقت، اولسی تعبیرات او ځنی نور صفتونه موجود دی چه د لنډیو خوند ئی ډیر زیات کړیدی او په هر چا باندی ښی لګیږی...»( الفت ګال پاچا، پښتو سندرې، کابل، ۱۳۲۵ کال، عمومي مطبعه، ۱۶۰ ام مخ)
د لنډیو په باب د الفت صاحب مالومات او نظر د لومړې لاس موادو او نظریاتو په ډله کې شمیرل کیږي، دی خپله د لنډیو په باب او په ټولنه کې د دې فولکلوري شعر د دریځ او پر خلکو باندې یې د تاثیر په باب نظر وړاندې کوي.
الفت صاحب په خپل دې کتاب «پښتو سندرې» د لنډیو د بحث په ترڅ کې د لنډیو ځینې بیلګې را اخیستي دي او د لنډیو د هنري جوړښت او ښکلایز اړخه یې لنډې تبصرې هم ور باندې کړې دي.
د لنډیو د بیلګو په پای کې یې په لمنلیک کې د لنډیو د را ټولولو او نقلولو منبع ته داسې اشاره کړې ده:
«څه لنډۍ له (ملی سندری) واخستل شوی او ځینی لنډۍ ښاغلی (پرهیز) او ښاغلی محمد علی (لونګین) راکړیدی چه د یادولو حق لری.» (الفت ګال پاچا، پښتو سندرې، کابل، ۱۳۲۵ کال، عمومي مطبعه، د ۱۹۶ مخ لمنلیک)
استاد الفت د خپل دې کتاب د لنډیو د بحث په پای کې د هغه وخت د لنډیو نمونې هم را اخیستي دي چې زه یې د لنډیو د دې بحث د پای له پاره ځینې خوږې او جالبې لنډۍ را نقلوم:

راځۍ، راځۍ چې لنډۍ وایو
لنډۍ لاښې دي د یار غم غلطوینه

ملا! آذان ته بیړه مه کړه
زه د آشنا په غیږ کې اوس ور ولویدمه

وار مي د تورو زلفو تیر شه
اوس مې په تورو زلفو نه نښلي بازونه

خلک جوړه، جوړه ویدیږي
زه کم نصیبه یار په خوب لانه وینمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې زه کور نه یم ته رامه شې
تا له به کور په بڼو ځوک جارو کوینه

ټینګه مې مه نیسه په غېږ کې
سبا به بوی د لونګین در ځنی ځینه

له مانه ته ښه پې چلمه
چې جانان خوله دربانديږ ړدی دواړه لاسونه

د ورځې تورې سترګې ګرزم
د شپې په لپو، لپو اوښکې تویومه

امیره ستا نوکران ډېر دي
د سپیني خولی نوکر را پرېږده چې راځینه

هغه ساعت به لوی قیامت وي
چې زوړ سړی په چټې واچوي لاسونه

تر دې خروړي سپي را تېر شه
تر دې ملالې خولې به زه در تېره شمه

ټپس د باز په نرخ  خرڅېږي
زه په دغه بازار سودا کله کومه

مسلماني په چا کې نه شته
مرور ګرزم ځوک مې نه پخلا کوینه

دا به له ما نه پوره نه شي
چې هر ساعت دې په جرګو پخلا کومه

زما زړګې د کاوون غر دی
په نورو ګرد وي په ما واورې ورویڼه

د نه ویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ